# د پیغمبرانو او ولیانو د قبرونو د بیا رغاونې حکم او په هغو کښې عبادت

تالیف: علامه سید مرتضي عسکري

Download from:aghalibrary.com

## د مهربان اوو بخښونکي خداي په نامه

بسم الله الرحمن الرحيم.
قَالَ الّذيْنَ غَلَبُوا عَلَى اَمْرِهِمْ لَنَتّخذَنّ عَلَيْهِمْ مَسْجِداً.
کله چې د هغوي (اصحاب کهف) پر حال خبر شول، ويې ويل:
دهغوي په ځاې يو جومات جوړو. (کهف/ ۲۱)

واَتّخذواْ مِنْ مَقامِ اِبْراهِيْمَ مُصَلّى.
او د ابراهيم له مقامه عبادتځاې جوړ کړئ. (بقرة / ۱۲۵)

مطرح شوي موضوگاني
پر قبرونو د ودانۍ په حراموالي د اعتقاد لرونکو دليلونه
د لومړۍ برخې په روايتونو کښې شک او اشکال
لومړې اشکال: له هجرته وړاندې د مدينې حالات
دوهم اشکال: د ماموريت وخت او ځاې
د دوهمې برخې په ورايتونو کښې اشکال
۱. د بني اسرائيلو د پيغمبرانو د قبرانو په باره کښې
۲. د يهودو او د بني اسرائيلو عبادتځاې
د هغه کسانو دليلونه چې د پيغمبرانو پر قبرونو عبادتځايونه جوړول جائز گڼي
۱. په قران کريم کښې:
په تفسيرونو کښې د اصحاب کهف کوټلي کسيه
د بحث نتيجه
۲. د رسول الله په سنت کښې
د مور له مزاره د پيغمبر اکرم(ص) زيارت
په مدينې کښې د رسول الله قبر
د پيغمبر اکرم(ص) د قبر د زيارت ثواب
په اهل بيتو او اصحابو کښې د رسول الله مبارک د قبر زيارتوال
الف: فاطمه(س) د پيغمبر اکرم(ص) د قبر لومړۍ زيارتواله
ب: ابو ايوب انصاري، هغه زائر چې د پيغمبر اکرم(ص) پر پاکې خاورې خپل مخ مږي
د بحثونو نتيجه او لنډيز

۱. په قران کريم کښې

۲. د پيغمبر اکرم(ص) په سنت کښې

۳. د مور د قبر په زيارت کښې د پيغمبر اکرم(ص) سنت

۴. په چت لرونکي کوټې استدلال

۵. د خپل قبر زيارت ته د پيغمبر اکرم(ص) هڅول

۶. د پيغمبر اکرم(ص) له قبره د حضرت زهراء او ابو ايوب انصاري زيارت

پهٔ قبرونو د ودانۍ د جوړولو پهٔ حراموالي د اعتقاد لروونکو دليلونه

مسلمانانو د پيغمبرانو او وليانو پر قبرونو د ورانۍ او بيارغاونې پهٔ موضوع کښې او د هغو ګېر چاپېره د طواف او د دغو قبرونو عبادتځاي او جومات ګرځولو پهٔ هکله له يوه بل سره اختلاف کړے دے. د دغو کارونو د حراموالي باور کوونکي پهٔ يو لړ روايتونو استدلال کوي چې پهٔ هغو کښې تر ټولو مهم دا دي:

الف: له امام علي(ع) يې روايت کړے دے چې فرمايلي يې دي:

كَانَ رسولُ الله فِي جنازَة فَقَال: أيُكمْ يَنْطلقُ الى الْمَديْنَة فلا يدْعُ بِها و ثَناءُ الاّ كَسَرَهُ، و لا قَبْراً الاّ سَوّاهُ، وَ لاَ صورةَ الاّ لطخها؟ فقالَ رَجُلٌ: اَنا يا رسولُ الله: فَانطلَقَ فهابَ اَهلَ المدينةِ فَرَجعَ، فَقالَ علی: اَنا انطَلَقَ يا رَسول اللهُ، قالَ فانطلقَ ثُمّ رَجَعَ فقالَ: يا رسولُ الله! لَمْ اَدْعُ بِما وَثنا اِلاّ كَسَرْتُهُ وَ لا قبْراً اِلاّ سَوّيْتُهُ، وَ لا صُورةً الاّ لطختُها.

پيغمبر(ص) د يوهٔ مړي پهٔ جنازه کښې ؤ چې ويې فرمايل: "پهٔ تاسو کښې څوک مدينې ته ځي، څو هلته ټول بتان مات، ټول قبرونه وران او د هغو ټولې بڼې (مجسمې) بدلې کړي؟ يوهٔ سړي وويل: زهٔ اې د خداې رسوله! زهٔ لاړ شم، ويې فرمايل: لاړ شه، هغه لاړ، بيا ستون شو او ويې ويل: اې د خداي رسوله! ټول بتان مې مات کړل، ټول قبرونه مې له مځکې سره برابر کړل او ټولې بڼې مې وربدلې کړې".

دا روایت د حدیثونو په کتابونو کښې تکرار شواو مونږ دلته بشپړه عبارت ذکر کړ.[۱]

ب: له پیغمبر اکرم(ص) څخه روایت شوے چې ویې فرمایل:
اَللهمّ لا تَجْعَلْ قَبْری وَثناَ ، لَعَنَ الله قَوماً اتّخَذَوا قبور انْبِیائِهم مساجد ،
پروردګاه! زما قبر بت ونه ګرځوې، خدا لعنت وکړه په هغې ډلې چې د خپلو پیغمبرانو قبرونه یې جوماتونه غوره کړل.[۲]
په بل روایت کښې پیغمبر اکرم(ص) هغه کسان چې د خپلو پیغمبرانو قبرونه یې جومات کړي، معرفي کړي او فرمایي: قاتَلَ اللهُ الیَهُوْد اِتّخَذوا قُبورَ اَنبیائِهِمْ مَساجِد ،
خداي ووژنه یهود ، چې د خپلو پیغمبرانو قبرونه یې جوماتونه جوړ کړل.[۳]

ج: په هغه څه استدلال چې له پیغمبر اکرم(ص) څخه د قبرونو له زیارته د ښځو د منع کولو په باره کښې روایت شوې، لکه څنګه

۱. مسند احمد ، لومړی ټوک ۸۷ړ ۸۹، ۹۲، ۱۱۰، ۱۱۱، ۱۲۸، ۱۳۹، ۱۴۵، او ۱۵۰مخونه. مسند طیالس ۹۲ او ۱۵۵حدیث.
۲. مسند احمد ، دوهم ټوک ۲۴۲ مخ.
۳. مسند احمد ، دوهم ټوک ۲۸۵مخ.

چې ابن ماجه، ترمذي او ابوداود په خپلو سندونو سره له ابو هريره ، حسان او ابن عباس نقل کړي چې:

اَنّ رَسول الله لَعَنَ زَوارات القبورُ.

پيغمبر اکرم(ص) د قبرونو زيارتوالې ښځې لعنت کړي دي.[1]

د لومړۍ برخې په روايتونو کښې اشکال

لومړۍ اشکال: له هجرته مخکښې د مدينې حالات

پيغمبر اکرم(ص) وروسته تر دې چې د مدينې ځينو خلکو اسلام قبول کړ تر هر کاره وړاندې يې لومړے مصحب بن عمير يې مسلمانانو ته د اسلام د هغه ورځو د حکمونو د يادولو لپاره وليږۀ ځکه چې د مدينې يوازې يو شمېر کسانو په هغه سفر کښې چې حج ته تللي وو په عقبه کښې حاضر شول او په پټه يې د رسول الله بيعت وکړ او اسلام تر هغه وخته په هغوي کښې پراختيا ونه موندله تر څو چې پيغمبر اکرم(ص) د هغوي خوا ته هجرت وکړ او هغوي سوکه سوکه اسلام ته ګروهنه پيدا کړه، امام علي(ع) هم له دريو يا زياتو ورځو وروسته په هغه مبارک

[1]. سنن ابن ماجه متاب جنائز چاپ دارالکتب العربيه (۱۳۷۲هـ) لومړی ټوک ۵۰۲مخ ۱۵۷۲ حديث، سنن ابو داود ، کتاب جنائز دريم ټوک ۲۱۸ مخ، ۳۲۲۲ حديث، مسند احمد ، د مصر چاپ (۱۳۱۳هـ) دوهم ټوک ۳۳۷ او ۳۵۲ مخونه، او سنن ترمذي، ابواب جنائز، مصر چاپ (۱۳۵۰هـ) دوهم ټوک ۲۷۲مخ.

پسې مدينې ته لاړ، مدينې ته د پيغمبر اکرم(ص) د ورتګ کيسه هم مشهوره ده، او همدغه راز، پيغمبر اکرم(ص) وروسته له دې چې د بنی قريظه، بنی نضير او بنی قينقاع له يهودو سره تړون وکړ پر مدينې يې خپل حکومت ورو ورو پراخ کړ، اوس چې په دغه بهير سره په مدينې کښې د اسلام د پيل او پراختيا او غښتليا په هکله پوه شو، پوښتنه دا ده چې:

پيغمبر اکرم(ص) چرته او کله په داسې حال کښې چې د مړي په جنازه کښې ؤ، امام علي(ع) يې مدينې ته وليږل، څو بتان له منځه يوسي، قبرونه صفا او مجسمې ورانې کړي؟

هم د قدرت په وخت او د يوۀ داسې واکمن په توګه چې له حکمه يې سرغړونه ممکنه نه ده؟ پردې سربېره، لومړۍ استازے چې ځي او ويريدوونکې ستنيږي، پيغمبر اکرم(ص) او نور هماغه راز د مړي په ښخولو بوخت وو، بيا هغه وروسته پيغمبر اکرم(ص) امام علي(ع) وليږل، او هغوي هماغه راز د مړي په ښخولو لګيا وو، دا څنګه امکان لري؟

دوهم اشکال: د ماموريت وخت او ځاي

د روايت په وروستۍ برخه کښې راغلي چې امام علي(ع) ابو الهياج اسدي ته وفرمايل: أَبْعَثُكَ فِيْما بَعَثَنی رَسُوْلُ اللّٰهُ اَمَرَنی أَنْ اُسَوّی کُلّ قَبْرٍ وَ أَطْمِس کُلّ صَنَمٍ.

زۀ تا په يوه کار ګمارم چې د خداې رسول پرې زۀ مامور کړے يم، ما ته يې حکم راکړ چې ټول قبرونه صفا او ټول بتان له منځه يو سم.[۱]

مسلمه خبره ده چې امام علي(ع)، ابوالهياج اسدي يوازې د خپل حکومت او خلافت په وخت کښې ګمارلے دے، پردې اساس بيا هم دا پوښتنه مطرح کيږي چې:

ابوالهياج ته د امام علي(ع) ماموريت چرته او کله ؤ؟ د امام علي(ع) د خالفت په وخت؟ له اسلامي فتوحاتو وروسته؟ د دريو خليفه ګانو له دورانه وروسته يا تر هغي وړاندې؟

امام علي(ع) ابوالهياج کوم ټاټوبي ته وليږۀ چې قبرونه وران او صفا او بتان نابود کړي؟

لنډه دا چې په دواړو روايتونو کښې، له پيغمبر اکرم(ص) او امام علي(ع) څخه صادر شوي حکمونه، کۀ چيرې دواړه صحيح وي، د شرک په ټاټوبي کښې د مشرکينو د قبرونو د ورانولو او نابودولو په باب دي، د مسلمانانو په قبرونو او د هغو په وراني د حکم اطلاق د روايت په کومه برخه کښې ترلاسه کيږي؟

د دوهمې برخې په روايتونو کښې شک او اشکال:

لومړی: د بني اسرائيلو د پيغمبرانو د قبرونو په باب

---

۱. مسند احمد، لومړی ټوک ۸۹ او ۹۲مخونه.

د تورات د پنځون سفر په پينځه ويشتم څپرکي کښې يو روايت دے چې په کوټلي توګه داسې دے:
"ابراهيم(ع) وفات شو، او اسحاق او اسماعيل، هغه د "قمرا" په وړاندې د عفرون بن صحار حتّي په بيديا کښې په "مکفيله" سمڅې کښې ښخ کړ".[۱]
او په پنځوسم باب کښې راغلي دي: "کله چې يعقوب په مصر کښې وفات شو، د هغه زوي "يوسف" هغه د "مکفيله" سمڅې ته راوړ او د خپل پلار او نيکۀ تر څنګ يې ښخ کړ".

د تثنيه سفر په څلورديرشم باب کښې راغلي دي:
"موسی (ع) د موأب په ټاټوبي کښې وفات شو او د فخور کور په وړاندې "جواء" کښې خاورو ته وسپارل شو او هيڅوک تر ننه پورې د هغه قبر نه پيژني".
او د يوشع سفر په څلوريشتم باب کښې راغلي دي:
"هغه يې په افرايم غرۀ کښې دفن کړ او د يوسف هډوکي په شکيم کښې ښخ شوي دي". او د تورات په اسفارونو کښې د داؤد او سليمان د قبر ذکر شته، د ښپيڅلي کتاب د قاموس ليکوال، د صميون په ژباړې او معرفي کښې وايي:
"د داود او سليمان د ښخولو ځاې پيژندل شوے نه دے"

[۱]. تورات، له عبراني، کلداني او يوناني ژبو، فارسي ژباړه: ۳۵مخ)

د معجم البلدان د "الخلیل" په ماده کښې راغلي دي:
الخلیل د یوۀ ښار او کلي نوم دے، د یوې ورځې د لارې په واټن له بیت المقدس سره نږدې، کله ګانې، ودانۍ او بازار لري چې د ابراهیم خلیل(ع) قبر هلته او تر مځکې لاندې یوې سمڅې کښې دے.
هلته زیارت اد د زیارتوالو د غونډېدا ځاې او میلمستون دے او هغه ځاې ته "الخلیل" وایي، اصلي نوم یې "حبرون" یا "حبري" دے، په تورات کښې راغلي چې خلیل(ع) له عفرون بن صحار حتّي ځخه د سپینو زرو په څلور سوه درهمو یو ځاې وپیرودۀ او بي‌بي سارا یې هلته ښخه کړې ده، د اهل حدیثویوه ډله ورسره منسوبه ده، هلته یو پاک او روحاني ځاې دے چې پرې د لورینې اغیزې ښکاره دي وایي: هغه کلا (قلعه) د سلیمان بن داود ودانۍ ده. هروي ویلي دي: په ۵۶۷ هجري قمري کال کښې بیت المقدس ته ورسیدم په هغه ځاې او الخلیل ښار کښې مې د اهل حدیثو له مشرانو سره وکتل، هغوي زما لپاره روایت کړ چې په ۵۱۳ هجري سپوږمیز کال کښې د ملک بردویل په دواران کښې، د الخلیل په سمڅې کښې یو ځاې کښیناستۀ د پرنګیانو یوه ډله د باچا په اجازې هغه ځاې ته ورغله او هلته یې ابراهیم، اسحاق او

يعقوب وموندل کفنونه يې وراستۀ شوي وو او هغوي ديوال ته تکيه وو، د سرونو لپاره يې قنديلونه ځوړند او سرونه يې لوڅ وو، باچا بيا پرې کفنونه وغوړول او کښيناستلی ځاې يې بند کړ،

وايي: د "سلفی" په نيزد مې ولوستل: يوۀ سړي چې "ارمنی" يې ورته ويل د "الخليل" د زيارت نيت وکړ او د هغه ځاې منجاور ته يې پريمانه ډالۍ ورکړې او ويې غوښتل ترې چې د هغه لپاره د لاندې تګ او د ابراهيم (ع) د مړي د کتنې امکان برابر کړي، ځواب يې واوريدۀ: اوس نه کيږي خو که چيرې پاتې شې څو زيارتوال لاړ شي ترسره به يې کړم. کله چې زيارتوال لاړل، يوۀ تيږه يې څنګ ته کړه او څراغ يې واخيستۀ او له يوۀ بل سره د اوياؤ درچو په اندازه د هغې سمڅې په لور چې پکښې پريمانه هوا چليده، ښکته لاړل، په سمڅې کښې يو تخت وو، چې ابراهيم(ع) پرې څملاستلې او شين ټوکر پرې غوړيدلے وو او په سمڅې کښې چليدونکي هوا د هغه سپينه ږيره خوځوله، اسحاق او يعقوب هم د هغه په څنګ کښې

وو، بیا یې هغه د سمڅې دیوال ته نږدې بوتلۀ او ورته یې وویل: ساره د دغه دیوال شاته ده، هغه غوښتل چې د دیوال شاته وګوري چې ناڅاپه یو غږ راغے "حرم ته له نزدې کیدا ډډه وکړه" هغه ویلي دي: (د دغه غږ په اوریدا سره) له هماغه ځایه چې ښکته تللے ووم، ستون شوم.[1]

د تاریخ ابن عساکر په لومړي ټوک کښې په دې هکله یو مطلب راغلې دے چې په لنډه توګه داسې دے:

کله چې له ۸۲ هجري کاله وروسته د دمشق جامع جمات د ولید بن الملک (په ۹۶هجري کال کښې مړ شوے) په حکم کنستې کیدۀ، د یحي بن زکریا، سر یې په صندوق کښې په یوه لوښې کښې د ګنبد تر یوې ستنې لاندې وموندۀ او هغه یې په هماغه ډول تر یوې ستنې لاندې پریښود په تورات او نورو کتابونو کښې د بني اسرائیلو د نورو پیغمبرانو د قبرونو ذکر نه دے شوے او د لوط، یوشع، ایوب، عزیر او زکریا قبرونه

[1]. معجم البلدان، دوهم ټوک ۴۲۸مخ)

نه دي پيژندل شوي، او د مريم زوے عيسى(ع) هم خداي خپل لور ته بره وړے دے.
دا وې خبرې د بني اسرائيلو (يهودو) د پيغمبرانو د قبرونو په هکله، مونږ نه ليدلي او نه اوريدلي او نه چا ليکلي دي چې يهوديانو د خپلو پيغمبرانو قبرونه، بتان جوړ کړي وي، او پوهيږو چې له قبره بت جوړول د قبر له درناوي او زيارت کولو سره توپير لري، د قبر بت ګرځول يا ترې بت جوړول، په دې معنا دي په لمانځونو کښې قبر د کعبې په څير خپله قبله وګرځوي، نو د دغو دوو پر تله کول يو باطل قياس دے.

دوهم: د يهودو او بني اسرائيلو عبادتځې
د بني اسرائيلو(يهودو) عبادتځاي چې د "عهد تابوت" پکښې وو، د اجتماع خيمې نوم درلودهٔ، د تورات د خروج سفر (له ۲۵ تر ۲۸) باب کښې د هغې د جوړلو په باب خپل پيغمبر، موسى(ع) ته د خداي د پيغمبر د حکم څرنګوالے، او په (۲۹ او ۳۰) باب کښې بني

اسرائيلو ته د خداې د حکم ځرانګوالے، کله چې په دښتې کښې وو د عبادت لپاره په "اجتماع خيمې" کښې ټول شوي دي، د خيمې او تابوت تصوير چې د سپيڅلي کتاب په قاموس کښې راغلے، داسې دے،

عکس خيمه اجتماع

عکس تابوت عهد

بنى اسرائيل چې به هر ځاې ته تلل، خيمه او تابوت به يې له ځان سره وړل، تر دې چې د فلسطين ټاټوبي ته ورسيدل، داؤد(ع) په هغه ځاې کښې د هغوي لپاره د خيمې او اجتماع په طرز د يوۀ عبادتځي د ودانۍ

سریزې برابرې کړې او سلیمان(ع) د هغې بنیاد کیښودهٔ او د اجتماع خیمه او تابوت یې هلته کیښودل.

په دې ډول پوهیږو چې یهودیانو په هغه وخت کښې چې په صحرا کښې وو د خپل عبادت لپاره د اجتماع خیمه درلوده او کله هم چې په فلسطین کښې میشته شول، سلیمان(ع) د هغوي لپاره ځانګړے عبادتځي "هیکل سلیمان" جوړ کړ څو د عبادت خیمه او عهد تابوت په هغه کښې کیږدوي. (نو د پیغمبرانو د قبرونو بت جوړول او د هغو عبادت کول چیرته وو؟)

البته ټول پام لرو چې په دغه جاج کښې زمونږ پوښتنه او شک هیڅکله د پیغمبر اکرم(ص) حدیثونو ته متوجه نه دے، مونږ له دې کاره خداې ته پناه وړو، زمونږ بحث او جاج یوازې د دغو حدیثونو د راویانو په باب دے، هغه راویان چې خداې هغوي له غلطئ، تیروتلو او هیریدا خوندي نه دي ساتلي، تر دې ځایه مو د هغو کسانو دلیلونه چې په قبرونو د ودانئ جوړول او یا بیارغاول د اسلامي شریعت مخالف

بولي، له څوابونو سره یوځاې بیان کړل، او اوس دهغو کسانو دلیلونه راوړو چې د قبرونو بیارغاونه او پرې ودانۍ جوړونه له شریعت سره سم ګڼي.

د هغو کسانو دلیلونه چې د پیغمبرانو او ولیانو پر قبرونو د عبادتځي او جومات جوړول جائز بولي:
مونږ دانبیاء او صالحینو لپاره د درنښتد مجلسونو د جوړیدا بحث او جاج کښې پر زمان او مکان د برکت او سپیرتوب د اغیز او پراختیا څرنګوالے بیان کړ په دغه بحث کښې یو ځل بیا هماغه ځاې ته ستنیږو او د متعال خداې په اذن – لاندیني موردونه ورزیاتوو:

لومړی په قران کریم کښې
د خداې د پیغمبرانو او ولیانو د قبر په ځاې کښې د عبادت پر جائز والي عقیده لرونکي وایي: متعال خداې په قران مجید کښې فرمایلي :
الف: واَتّخذواْ مِنْ مَقامِ اِبْراهِیْمَ مُصَلّی.

او د ابراهيم له مقامه عبادتځاې جوړ کړئ.
(بقرة / ۱۲۵)
ب: قَالَ الّذيْنَ غَلَبُوا عَلَى اَمْرِهِمْ لَنَتّخِذَنّ عَلَيْهِمْ مَسْجِداً.
کله چې د هغوي (اصحاب کهف) پر حال خبر شول، ويې ويل: دهغوي په ځاې يو جومات جوړو. (کهف/ ۲۱)
د مقام ابراهيم کيسه مو په دوهمې جزوې کښې د خداې د نيکو بندګانو او پيغمبرانو د درناوي په مجلسونو کښې کړې، هغه څه چې بخاري په خپل صحيح کښې بيان کړي په لنډه توګه داسې ده:
د خداې د کور د جوړولو په وخت د اسماعيل او ابراهيم کار دا ؤ چې اسماعيل به تيږې (کاڼي) راوړلې او ابراهيم به کيښودلې، تر دې ځايه چې ديوال لوړ شو، اسماعيل به تيږې ورته په لاس ورکولې، څو ودانۍ جوړه کړي، د ابراهيم مقام چې خداې مونږ ته حکم راکړے چې ترې عبادتځي او لمونځ ځاې جوړ کړو، هماغه ځاې دے".

## عکس مقام ابراهیم

په دغه شیشني کوټنې کښې چې اته ګوټونه لري یوه تیږه ده چې پرې د ابراهیم د پلو نښې جوړې دي، له مقام ابراهیم(ع) څخه مطلب همدا دے.

په تفسیرونو کښې د اصحاب کهف کوټلې کیسه:

اصحاب کهف د دقیانوس د دربار د ځوانمردو یوه ډله وه، هغه باچا چې د خدایۍ ادعا یې کوله، هغوي په پټه په خپل پروردګار ایمان راوړ او له خپل باچا وتښتیدل او یوې سمځې ته یې پناه یوړه خدای د هغوي هوش واخیسته او څو سوه کاله یې ویدهٔ کړل او بیا یې ویښ کړل، هغوي یو تن دخوړو د برابرولو لپاره ښار ته ولیږهٔ د ښار خلک له هغه سره د پخوانیو سیکو په لیدلو سره د هغوي په راز پوه شول، د ښار خلک په هغه وخت کښې مومنان وو او له ښاره د یوې

مومنې ډلې دخپل دين د ساتنې لپاره د تښتيدا له کيسې خبر وو نو ځکه کله چې د هغوي له ځايه خبر شول، د سمڅې په لور يې ودانګل، دا خبر هغو ځوانمردو ته تورسيدۀ خو دا يې نه خوښوله چې بيا ښار ته ستانه شي له خدايه يې وغوښتل چې بيا هماغه حال ته ستانه کړي، خداې يو ځل بيا هغوي د مړيو په شان ويدۀ کړل د ښار خلک له هغوي سره د چلند د څرنګوالي په باب په بحث او لبړې بوخت شول او هغه کسان چې اصحاب کهفو له حاله خبر شوي وو، وويل: د هغوي پر ځاې يو جومات جوړو.[۱]

د بحث نتيجه

په لومړي ايت کښې پاک خداې مونږ ته حکم راکړے چې د ابراهيم د پښو له ځايه د لمانځه ځاې واخلو او بيا د خداې عبادت وکړو، دا کار په هيڅ دليل شرک نه دے بلکې عبادي توحيد او دپاک خداې سم اطاعت دے، په دوهم ايت کښې خداې د داسې

---

۱. د ايتونو د تفسير لپاره د تفسير کتابونو ته مراجعه وشي.

مؤمنانو خبر ورکړے چې هوډ يې وکړ د هغو مؤمنو ځوانمردو پر ځاې يو جومات جوړ کړي او په هغه ځاې کښې د خداې عبادت کړي او هغه ته سجده وکړي، دا ټول مومنان وو ، نه مشرکان! خداې هم هغوي په دغه کار ملامت کړي نه دي.

دا دوه مثالونه مو د خداې له کتابه بيان کړل، اوس د پيغمبر اکرم(ص) له سنته څو بيلګې بيانوو:

دوهم: د رسول الله مبارک په سنت کښې

الف: په صحيح مسلم ، نسايي، ابن ماجه، ترمذي او موطا مالک کښې له بريده د هغه له پلاره راغلي دي:

قالَ: قَالَ رَسولُ اللهِ(ص) نَهَيْتُكُمْ عَنْ زيارَةِ الْقُبُوْرِ فَزُورُوها....

راوي وايي: پيغمبر اکرم(ص) وفرمايل: ما تاسو د قبرونو له زيارته منع کړئ اوس د هغو زيارت ته ځئ.[1]

---

[1]. صحيح مسلم، ۷۷۹حديث، سنن نسايي، څلورم ټوک ۸۹مخ، سنن ابن ماجه، لومړے ټوک ۵۰۰ او ۵۰۱مخونه، سنن

په سنن ابو داود کښې د دغه حدیث په پاې کښې راغلي دي:

فَاِنّ فی زِیارَتِها تَذکِرَةٌ

ځکه چې د قبرونو په لیدو کښې پند او نصحیت دے.

په سنن ابن ماجه کښې د ابن مسعود له قوله وايي:

إنّ رَسولُ اللّٰه(ص) قالَ: کُنْتُ نَهيْتُکُمْ عَنْ زِیارَةَ الْقُبورِ فَزَرُوها فَإنّها تُزْهُدُ فی الدّنْیا وَ تُذکّرُ فی الاخِرةِ.

په تحقیق سره د خداې رسول وفرمایل: ما پخپله مخکښې تاسو د قبرونو له زیارته منع کړئ، اوس يې د زیارت لپاره ځئ، چې د قبرونو زیارت دنیا بې ارزښته کوي او د اخرت په فکر کښې راځئ.[1]

ب: د اسماعیل له دورانه د خاتم الانبیاء تر وخته په مکې او مدینې کښې د پیغمبرانو او رسولانو د قبرونو کیسه:

---

ترمذي، څلورم ټوک ۲۷۴مخ، سنن ابي داود، ۳۲۳۵حدیث، مؤطا مالک، دوهم ټوک ۴۸۲مخ.

۱. سنن ابن ماجه، ۱۵۷۱ حدیث.

۱: په مکې کښې:

په ټولو دورانونو کښې د کعبې ټول طواف کوونکي د بيت الله له طواف سره په يو وخت د حجر اسماعيل طواف هم کوي او د هغه له ديوالګي سره په سوليدا سره د تبرک کيدا هڅه کوي، او دا هغه ځاي دے چې اسماعيل او د هغه مور هاجره پکښې ښخ کړاې شوې دي.

د ابن هشام (وفات: ۲۱۸) په سيره ، طبري تاريخ (وفات ۳۱۰هـ) ابن اثير تاريخ (وفات ۲۳۰هـ) ابن کثير (وفات ۷۷۴هـ) يو لړ روايتونه راغلي چې وايي: اسماعيل له خپلې مور هاجره سره په حجر کښې ښخ دي". اسماعيل وصيت وکړ چې د خپلې مور د قبر تر څنګ په حجر کښې ښخ کړے شي".

ابن سعد په خپل طبقات کښې وايي:

اسماعيل چې کله شل کلن شو مور هاجره يې په نوي کلنۍ کښې مړه شوه هغه مور په حجر کښې دفن کړه، اسماعيل هم له خپل پلار ابراهيم(ع) وروسته مړ شو

او د خپلې مور هاجره تر څنګ د کعبې په خوا کښې خاورو ته وسپارل شو، په يوۀ بل روايت کښې وايي:
د اسماعيل قبر تر ناودان لاندې د رکن او بيت تر مينځ دے.[1]
په الاکتفا کتاب کښې يو روايت دے چې په لنډه توګه داسې دے:
"هاجره اسماعيل او زوے يې نابت په حجر کښې ښخ کړاې شوي دي.[2]
په دغو عکسونو کښې حجر اسماعيل په داسې حال کښې چې لمونځګزار او طواف کوونکي ترې چاپېره ګرځي، ليدل کيږي.

---

[1]. طبقات ابن سعد اروپا چاپ لومړے ټوک ۲۵مخ چې کوټلې مو ذکر کړ.
[2]. الاکتفا فى مغازى المصطفى والثلاثة الخلفاء ۱۹۹مخ، تصحيح (هنري ماسه) (جول کريونل) چاپ، الجزائر ۱۹۳۱ ميلادي.

## عکس
## دلمونځ کوونکو مخامخ حجر اسماعيل

## عکس
## حجر اسماعيل، او د هغه ګير چاپيره طواف کوونکي

ابن جبير په خپل سفر ليک کښې د اسماعيل او د هغه د مور هاجرې بي بي د قبر ذکر کړے او فرمايي:
تر ناودان لاندې په حجر انګړ کښې د بيت الله الحرام له ديوال سره نيژدې د اسماعيل(ع) قبر دے، نښه يې شنه تيږه چې مرمرين او د محراب په څير مستطيل دے چې نور شنه مرمرين کاڼي ورسره ګير چاپېر نښليدلي دي، دواړه تيږې حېرانونکي او د ليدو وړ دي، پکښې رګونه او ټکي دي چې زيړ بخون دي داسې لکه چې پکښې درز وي او په بوټي کښې د ويلو شوو سرو زور پاتو زرو ته ورته دي، په څنګ

کښې يې له رکن عراقي سره نږدې، د هغه د مور هاجره قبر دے د هغه هم د يوې نيمې لويشتې په اندازه يوه شنه تيږه ده، خلک په لمانځه کښې حجر له دغو دوو ځايونو تبرک اخلي او دا د هغوي خوښ کار دے ځکه چې هغه دوه قبرونه د بنت عتيق دي او دوه ښپيځلي او درادنه مړي لري، داسې قبرونه چې خداې نوراني کړي او په برکت يې په هغه ځاې کښې لمونځ کوونکو او دعا کوونکو ته ګټه رسولې.

د دغو دوو سپيځلو قبرونو تر منيځ اووه لويشتې واټن دے.[۱]

عبدالرحمان بن جوزي (وفات: **۵۹۷ هجري**) په خپل کتاب کښې په حرم کښې د ښخ شويو بزرګانو د معرفي په باب کښې ليکي:

[۱]. ابن جبير، محمد بن احمد بن جبير کناني اندلسي...(د **۵۴۰** يا **۵۳۹** هـ د لومړۍ خور د شنبې په شپه زيږيدلے او د **۶۱۲** هجري کال د برات په **۲۷** او **۲۹** نيټه د چارشنبې په شپه په اسکندريه کښې مړ شوے)

له صفوان بن عبدالله الجحمي روايت شوے چې ويلي يې دي: "ابن زبير (د بيت په خوا کښې) يو ځاې وکنده، د شنې تيږې يوه برخه پيدا شوه، له قريشو يې د هغې په هکله توضيح وغوښتله، هيڅوک له هغه خبر نه وو خپل پلار ته مې وليږله او له هغه يې وپوښتل پلار مې وويل: دا د اسماعيل(ع) د قبر دے، هغه يو خوا بل خوا نه کړے، هغه همداسې وکړل"[۱]

ابن زبير ويلي دي: د غه نيم دايره (ديوال) دې ته اشاره کوي چې هغه څه چې مسجدالحرام له رکن شامي سره ګنډي د اسماعيل د پيغلو قبرونه دي. روايت شوے چې د ناودان تر لويديځې دروازې پورې د دفن ځاې، حجر اسماعيل دے.

ابو عبدالله محمد بن اسحاق الفاکهي (وفات: ۲۷۲هـ) د خپل کتاب "معرفی قبور دوشيزګان اسماعيل" په باب کښې ليکي: روايت شوے چې ابن زبير ويلي دي: "دا نيمه دائره چې له شامي رکن سره يوځاې

۱. "مثيرالغرام الساکن الی الی اشرف الاماکن" دارالرايه المنشر رياض چاپ ۱۴۱۵ هجري، ۲۱۸مخ)

شوي، د اسماعيل(ع) د پيغلو قبرونه دي" ابن ابی عمر په خپل حديث کښې وايي: "راوي له سفيانه وښوښتل: دا کوم ځاې دے؟ هغه پخپل لاس سره لويديځ رکن ته مخامخ چې د يماني رکن له دارالعجلة سره يوځاې کيږي "حجر" ته اشاره وکړه".[1] دغه مطلب عبدالرزاق هم، د "مصنف" د پينځم ټوک په ۱۲۰مخ او ازراقي د خپل کتاب د دوهم ټوک په ۲۲مخ ليکلے دے.[2]

ابن جوزي په حرم کښې ښخ شويو بزرګانو د معرفۍ په باب کښې او ازراقي په اخبار مکه کښې روايت لري چې په لنډه توګه داسې دے:

"هر پيغمبر چې امت به يې هلاک شو مکې ته به راتللو او له مؤمنانو سره يوځاې به يې عبادت کاوۀ ترڅو چې به وفات شو، هود، صالح او شعيب هم پکښې شامل

[1] . من اخبار مکه فی عديم الدهر و حديثه، بيروت چاپ ۱۴۱۴هـ.

[2] . د هغه څۀ پر اساس چې د اخبار مکه په ۱۲۳مخ، لمن ليک کښې راغلي دي.

وو. او د رکن، (ابراهيم) مقام، زمزم او حجر (اسماعيل) تر مينځ، د نهه نوي پيغمبرانو قبرونه دي".

ابوبکر فقيه له پيغمبر اکرم(ص) روايت کړے چې ويې فرمايل:

"هيڅ يو پيغمبر له خپل قومه جلا نه شو، مګر دا چې کعبې ته به راغلهٔ او د خداې عبادت به يې وکړ څو له دنيا به يې کوچ وکړ، د هود، شعيب او صالح قبرونه د زمزم او مقام ابراهيم تر مينځ دي د دريو سوو پيغمبرانو قبرونه په کعبې کښې دي او له يماني رکن تر اسود رکن پورې اويا پيغمبران دفن دي".[1]

څه چې بيان شول د خلفاؤ مکتب په کتابونو کښې نقل شوي روايتونه وو. د اهل بيتو مکتب د حديثونو په کتابونو کښې هم د دې په څېر يو شمېر روايتونه شته چې په دې ډول دي:

کليني(وفات نيتهه۳۲۹هـ) په کافي کښې، صدوق(وفات نيتهه ۳۸۱هـ) په من لايحضره الفقيه او

[1] مختصر کتاب البلدان، تاليف، ابوبکر بن فقيه همداني (۳۴۰هـ) بريل چاپ، لندن ۱۳۰۲هـ ۱۷مخ

علل الشرايع او فيض کاشاني(وفات نيټه ۱۰۸۹ه) په وافي او مجلسي(وفات نيټه ۱۱۱۱هجري) په بحار کښې روايت کړے دے چې د کافي عبارت دا دے: د هاجره او اسماعيل قبرونه په حجر کښې دي، او همدغه راز روايت راغلے په حجر کښې د پيغمبرانو قبرونه دي،

په کافي، وافي او بحار کښې راغلي دي: په حجر کښې د دريم رکن په محدودې کښې د اسماعيل د کورنۍ قبرونه دي.[1]

دا روايتونه په مکې کښې د پيغمبرانو او وليانو د قبرونو په هکله وو، په راتلونکې برخې کې له مکې پرته په نورو ځايونو کښې د هغوي د قبرونو ذکر کوو،

[1]. فروع کافی، کتاب حج، د ابراهيم او سماعيل د حج باب، ۴۱حديث، څلورم ټوک ۲۱۰مخ، من لايحضره الفقيه، حج کتاب، دوهم ټوک ۱۲۵مخ، وافی، حج کتاب اتم ټوک ۲۸مخ، بحار الانوار، النبوة کتاب، پينځم ټوک، ۱۴۳ او ۱۴۴مخونه.

۱

# په ابواء کښې د پيغمبر اکرم(ص) د مور قبر او مور له مزاره د رسول الله مبارک زيارت

د معجم البلدان کتاب ليکونکې د ابواء په معرفۍ کښې وايي:
"ابواء" د مدينې په خوا کښې يو کلے دے چې د مدينې له لورې تر جحفه پورې يې واټن درې ويشت ميله دے".
د پيغمبر اکرم(ص) د مور، د وهب لور "آمنه" قبر په ابواء کښې دے، په ابواء کښې خاورو ته د سپارلو سبب دا وو چې د رسول الله مبارک پلار عبدالله مدينې ته لاړ چې خرما راوړي او هغه په مدينې کښې وفات شو، د هغه ماندينه د وهب لور آمنه به په کال کښې يو ځل د هغه د قبر د زيارت لپاره مدينې ته تله، کله چې پيغمبر اکرم(ص) شپږ کلن شو آمنه له عبدالمطلب او د پيغمبر اکرم(ص) له دايېې ام ايمن

سره د مدينې په لور روانه شوه او مکې ته د ستنيدا په وخت په ابواء کښې وفات شوه.[۱]
د ابن عساکر په تاريخ کښې راغلي دي:
د خداې د رسول (ص) او زمونږ د آقا مور د وهب لور آمنه وه، هغې پيغمبر اکرم(ص) د بني عامر بن نجار قبيلې، د خپلو ماماګانو د کتنې لپاره مدينې ته بوتلو، بيا مکې ته ستنه شوه او د مکې او مدينې تر مينځ په ابواء کښې په داسې حال کښې چې رسول الله مبارک شپږ کلن ؤ وفات شوه.[۲]
ابن عساکر په طبقات کښې د دغه خبر په تشريحولو پسې يو مطلب زيات کړے چې په کوټلي توګه داسې دے:
د رسول الله مبارک کله چې تر حديبيې د عمرې په لاره کښې ابواء ته ورسيدۀ، د خپلې مور آمنې بي بي قبر خوا ته راغے، قبر يې سم کړ او تر څنګ يې وژړل، مسلمانانو هم د پيغمبر اکرم(ص) د ژړا په خاطر وژړل.

۱. معجم البلدان، ياقوت حموي، لومړے ټوک سلم مخ.
۲. مختصر تاريخ دمشق، ابن عساکر، دوهم ټوک سلم مخ.

د مور پر قبر د خداې د رسول د ژړېدلو او د اصحابو د ژړېدا خبر د حديث په نورو كتابونو كښې هم راغلے دے.[۱]

---

۱. طبقات ابن سعد، بيروت چاپ ۱۳۷۲هـ، لومړى ټوک ۱۱۲مخ. سنن نسايي د جنازو كتاب، لومړى ټوک ۲۲۷مخ، سنن ابي داؤد، ۳۲۳۴حديث، سنن ابن ماجه، ۱۵۰۲حديث.

## ۲

## په مدينه کښې د خداې د رسول(ص) قبر

په طبقات ابن سعد او سيره ابن هشام کښې روايت دے چې په لنډه توګه داسې دے:

"رسول الله په خپل کور کښې په هماغه کوټه کښې چې پکښې وفات شوے ؤ، خاورو ته وسپارل شو، چې وروسته دوه خليفه ګان، ابوبکر او عمر هم په هغه ځاې کښې ښخ کړاې شول، بيا يې دغه شين ګنبد پرې د پاسه جوړ کړ.[1]

عکس: د پيغمبر اکرم(ص) د روضې

---

[1]. طبقات ابن سعد ، دوهم ټوک، ۲۹۷ او ۲۹۴مخونه. سيرة ابن هشام، څلورم ټوک، ۳۴۳مخ.

# ۳
# د رسول الله مبارک د قبر د زيارت ثواب

دار قطني په سنن، طبراني په معجم او فاکهي په اخبار مکه کښې پخپلو سندونو سره د ابن عمر له قوله ليکلي چې ويې ويل:
"قَالَ رَسولُ الله(ص): مَنْ حَجّ فَزَارَ قَبْرِيْ بَعْدَ مَوتِي کَانَ کَمَنْ زارنِيْ فی حَياتِی".
د خداې رسول (ص) وفرمايل: څوک چې حج ادا کړي او له رحلته وروسته مې زيارت وکړي، د هغه چا په شان دے چې په ژوندون کښې يې زما زيارت کړے وي.[۱]

---

[۱]. سنن کبرای بيهقي، پينځم ټوک ۲۴۶مخ، سنن دار قطني، دوهم ټوک ۲۷۸مخ، اتحاف السادة المتقين زبيدي، څلورم ټوک ۴۱۶مخ، ترواء الغليل، الباني، ۴ټوک ۳۳۵مخ، کنزل العمال ۵ټوک ۷۰مخ، مجمع الزوائد، هيثمي، ۴ټوک دوهم مخ، درالمنثور، سيوطي، لومړی ټوک ۲۳۷مخ، معجم الکبير طبراني ۱۲ټوک ۴۰۷مخ.

طيالسي پخپل سند سره له عمر څخه روايت کړے چې ويې ويل:

وامې وربېدل چې پيغمبر اکرم(ص) فرمايل:

"مَنْ زارَ قَبْری اَوْ مَنْ زارَنی کُنْتُ لَهُ شَفِیعاً اَوْ شَهِیداً."

هر څوک چې زما د قبر زيارت وکړي، يا زما زيارت وکړي، زۀ به د هغه شفاعت کوونکې يا د هغه ګواه وم.[۱]

---

۱. مسند طيالسي (فوت ۲۰۴هـ) دولسم مخ، کنزالعمال، ۲۰ټوک ۱۲۱مخ، مختصر تاريخ دمشق، دوهم ټوک ۴۰۲مخ، المطالب العالية، ابن حجر ۱۲۵۴مخ، درالمنثور، سيوطي لومړی ټوک ۲۳۷مخ، معجم الکبير، طبراني، دولسم ټوک ۴۱۷مخ.

## ۴

## له اهلبيتو او اصحابو د پيغمبر اکرم(ص) د قبر زيارتوال

**الف: فاطمه(س) د رسول الله د قبر لومړۍ زيارتواله:**

ابن جوزي په خپل سند سره له امام علي(ع) روايت کړے چې وېې فرمايل: "کله چې د خداې رسول (ص) خاورو ته وسپارل شو، فاطمه (س) قبر ته نيژرې راغله، لږه وdريدله او بيا يې له قبره د خاورو يو موټې راواخيستۀ او پر سترګو يې کيښودۀ او وژړيدله او دا بيتونه يې ولوستل:

مَا ذا عَلی مَنْ شَمّ تُرْبَۃَ اَحمَد
اَنْ لا يَشُمّ مَدَی الزّمانِ غَوالِياً
صُبّتْ عَلَیّ مَصَائِبٌ لَو اَنّها
صُبّتْ عَلَی الارْضِيْنَ عَدْنَ لَيالِياً

راستي آنکه شميم سرکويت بو ييد
چه غم از بوی دو عالم به مشامش نرسد

بــر مــن آن شــد كه اگر بـر همه ايام رود
ظلمت دهر به تــاريــكــي شــامش نـرسد

ژباړه:

په ريښتيا چې څوک ستا د کوڅې وږمه بوي کړي،
په دواړو عالمو کښې به د غم بوې ورونه رسيږي،
پر ما داسې غمونه راغلل چې که چيرې په ورځو راغلي وو،
نو ورځې به په تورو شپو بدلې شوې وے.

ب: ابو ايوب انصاري، هغه زوار چې مخ يې د رسول الله مبارک پر پاکو خاورو مږۀ.

په مجمع الزوائد کښې پخپل سند له ابو داود بن صالح راغلي چې هغه وويل: يوه ورځ مروان د رسول الله مبارک د قبر خوا ته وکتل او ويې ليدل چې يوۀ سړي خپله څيره پر قبر کيښودلې، ويې ويل: خبر يې څه کوې؟ هغه سړے چې د پيغمبر اکرم(ص) صحابي، ابو ايوب انصاري ۇ، خپل مخ مروان ته واړوۀ او ويې

**ويل: هو! (خبر يم چې څه کوم( زۀ د رسول الله(ص) د قبر زيارت ته راغلم، د حجر زيادت ته لا نه رم.**[١]

١. مجمع الزوائد ، کتاب الخلافة، بيروت چاپ ١٩٦٧م، او پينځم ټوک، ٢۴٥مخ، دا روايت په بل عبارت د همدغه کتاب د څلورم ټوک په دوهم مخ راغلے دے او مسند احمد ٥ټوک ٢٢۴مخ، مستدرک حاکم ٥ټوک ٥١٥مخ.

**د بحثونو نتيجه او خلاصه:**

د پيغمبرانو او وليانو په قبرونو د ودانۍ د جوړولو او بيارغاونې او هغه د عبادتځي د جوړولو په حراموالي باور کوونکي، د ځينو روايتونو په استناد سره وايي:

**لومړی:** امام علي(ع) ابوالهياج اسدي ته وفرمايل:

زۀ تا په هغه کار ګمارم چې د خداې رسول (ص) پرې زۀ ګمارلے يم، او ويې فرمايل: پيغمبر اکرم(ص) د يوۀ مړي په جنازه کښې ؤ چې ويې فرمايل: په تاسو کښې څوک مدينې ته ځي، چې ټول بتان مات، ټول قبرونه هوار او ټولې بښې بدلې کړي؟ يو سړے د دغه کار د ترسره کولو لپاره روان شو، خو د مدينې له خلکو وويريدۀ او ناکامه ستون شو. امام علی(ع) روان شو او هغه ټول کارونه يې ترسره کړل.

په دې خبرې پوهيدل ګران دي چې په دغه روايت استدلال کوونکي څنګه په دې کښې موجودو اشکالاتو ته متوجه شوي نه دي؟ آيا پيغمبر اکرم(ص) په مکې کښې د مړي په ښخولو بوخت وو خپل

استازے مدینې ته لیږي او هغه ناکام راستنیږي او بیا د خپل ترۀ زوے علی(ع) لیږي او هغه ټول حکمونه ترسره کوي، یا په مدینې کښې وو؟

د مړي د ښخولو دا دستوره څومره اوږده وه چې لومړے سړے ځي او ناکام ستنیږي او بیا د پیغمبر اکرم(ص) د ترۀ زوے روانیږي او ټول قبرونه روانوي او ټولې ښې بدلوي او ټول بتان ماتوي؟ آیا د دغو بتانو خاوندان مسلمانان وو که چېرې مسلمانان وو نو د څه لپاره یې بتان ساتلي وو؟

او که چېرې مشرکان وو نو څنګه په یوازې سر د پیغمبر اکرم(ص) د ترۀ زوے په تګ سره، د هغه حکم ته تسلیم شول؟

او بله خبره دا چې ابوالهیاج ته د امام علي(ع) حکم باید د هغه حضرت د خلافت په وخت کښې وي، ځکه چې د یوه ښار د خلکو په هکله د داسې حکم کول یوازې په ګردو چارو د مسلط قدرتمن واکمن له لورې ممکن دے، نو د دغه حکم د صادرولو وخت د دریو خلیفه ګانو له دورانه وروسته وو، نه پوهیږو آیا په

هغه وخت کښې په اسلامي ټاټوبيو کښې کوم بت پاتې ؤ چې ابوالهياج يې مات کړي؟
نو د حديث په رښتونوالي خو يې زمونږ سره نه خلاصيږي!

دوهم : د هغوي استدلال، له پيغمبر اکرم(ص) سره يوۀ منسوب روايت کښې وايي: رسول الله(ص) فرمايلي: "زما قبر بت جوړ نه کړئ لکه څنګه چې يهوديانو د خپلو پيغمبرانو قبرونه بتان جوړ کړل".
نه شو پوهيدلاي، يهوديانو کله د خپلو پيغمبرانو قبرونه بتان جوړ کړل؟
هغوي له مصر څخه له وتلو وروسته او په دښتې کښې په لالماندي پسې چې د عبادت لپاره يې د اجتماع خيمه درلوده د سليمان په زمانې کښې هم چې هغه حضرت د هغه لپاره "هيکل سليمان" عبادتځي جوړ کړ، لکه څنګه چې په مدينې کښې د رسول الله(ص) جومات د عبادت لپاره جوړ شو. خو د خپلو پيغمبرانو د قبرونو په باب هم، لکه څنګه چې تېر

شول، د هغوي ځينې خلک بيخي د هغوي د ښخولو ځاې نه پيژني، ځينې هم په سمڅو کښې تر مځکې لاندې ښخ دي او د هغوي د ښخيدا ځاې ګوته په شمير خلکو پيژندل،

خو هغه څه چې له پيغمبره روايت شوي چې هغه حضرت د قبرونو په زيارت کوونکو ښځو لعنت کړے د نورو پريمانه او صحيح روايتونو په وړاندې نشو برابرولاي، هغه روايتونه چې د خداې رسول (ص) پکښې فرمايلي: ما پخپله تاسو د قبرونو له زيارته منع کړئ، اوس د هغو زيارت کوئ.

دا په لنډه توګه د هغو کسانو دليلونه وو چې په قبرونو د ودانۍ جوړلو، بيارغاوني او د هغو عبادتځي يا جومات ګوځول، حرام ګڼي په قبرونو د ودانۍ جوړولو، بيارغاونې او عبادتځاې ګرځولو عقيده لرونکي هم په دغو دليلونو استدلال کوي،

لومړی: په قران کريم کښې:

وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقامِ اِبْراهِيمَ مُصَلّى.

او د ابراهيم له مقامه عبادتځاي جوړ کړئ. (بقرة / ۱۲۵)

قَالَ الّذِيْنَ غَلَبُوا عَلَى اَمْرِهِمْ لَنَتّخِذَنّ عَلَيْهِمْ مَسْجِداً.

کله چې د هغوي (اصحاب کهف) پر حال خبر شول، ويې ويل: دهغوي په ځاې يو جومات جوړو. (کهف/ ۲۱)

نو پاک خداې مونږ ته حکم راکړے چې د خپل دوست، ابراهيم د پل ځاي عباتځاي جوړ کړو او همدغه راز يې خبر راکړے چې هغه کسان چې د اصحاب کهف له حاله خبر شول ويې ويل: د هغوي د خوب پر ځاې يو جومات جوړو، او په دغه خبر سره يې د هغوي اقدام تائيد کړے دے.

دوهم:د پيغمبر اکرم(ص) په سنتو کښې:

وايي: د سول الله مبارک سنت د دې تائيدونکے دے چې هغه څه چې د خداي د پيغمبر "اسماعيل" د هغه د مور هاجرې او د هغه د پيغلو او په بيت الله الحرام او حجر اسماعيل کښې د نورو پيغمبرانو د قبرونو لپاره

ترسره شول چې پکښې ځينې د پيغمبر اکرم(ص) له زمانې وروسته په پرله پسې پيړيو کښې څرګند شول او ټولو وليدل، ټول روا او مجاز دي ځکه چې پيغمبر اکرم(ص) پخپله د حجر اسماعيل طواف کړے او د پيغمبر اکرم(ص) اهل بيتو او اصحابو يې هم پيروي کړې او پاک او نيک مسلمانان تر ننه پورې پر دغه سنت ولاړ او پر ترسره کيدا يې ټينګار کوي.

دريم: د مور د قبر زيارت، په قبر ژړيدا او اصحابو ژړيدل او قبر مرمت، د پيغمبر اکرم(ص) يو سنت دے

څلورم: په چت لرونکې کوټې استدلال:
هغه کوټه چې پکښې د رسول الله(ص) د دوو خليفه ګانو، ابوبکر او عمر قبرونه دي، او پرې پاسه شين ګنبد دے، اوس هم شته

پينځم: د خپل قبر زيارت ته د پيغمبر اکرم(ص) له لورې د مسلمانانو هڅول:

شپږم: دخپل پلار، پیغمبر اکرم(ص) له قبره د فاطمه زهراء(س) زیارت او همدغه راز له همدغه قبره د صحابي، ابوایوب انصاري زیارت.

نو د پیغمبرانو او ولیانو د قبرونو زیارت، پر هغو ودانۍ جوړول، او د دغو قبرونو جومات او عبادتځي ګرځول، د رحیم خداي او د کریم پیغمبر بنیادي سنتونه دي.

پر دې اساس، له قبر سره ګروهنه لرونکے ترټولو لومړے مخکښ له څنګه چې ځینې یې تفسیر کوي، د خداې رسول(ص) دے او بیا د هغه حضرت قدرمنه لور فاطمه زهراء(س) او ورپسې لوړ رتبه اصحاب، او بیا مونږ شیعیان او محبان! او دا شرافت زمونږه لپاره بس دے چې ټول د رسول الله(ص) پیرو یوو او هغه مبارک زمونږ بیلګه،نمونه او پیشوا دے.

هو! که چیرې اوس هم توفیق او فرصت ترلاسه کړو، د پیغمبرانو او ولیانو پر قبرونو په ژړا کښې او هغو په مرمتولو کښې به د پیغمبر اکرم(ص) د سنت پیروي

کوو او د هغه مبارک د قبر زیارت به په لومړیتوب کښې کرځوو، او په دغه کار کښې د نیک صحابي ابوایوب انصاري پیروي کوو او خپل مخ د رسول الله مبارک د قبر په پاکو خاورو ږدو او د هغه مبارک د بدن له ټوټې فاطمه زهراء(س) درس اخلو او د قبر خاورې یې بویوو او دا به وایو:

راستي آنکه شمیم سر کویت بوییید
چه غم از بوی دو عالم به مشامش نرسد
بر من آن شد که اگر بر همه ایام رود
ظلمت دهر به تاریکي شامش نرسد

ژباړه:

په ریښتیا چې څوک ستا د کوڅې وږمه بوي کړي،
په دواړو عالمو کښې به د غم بوې ورونه رسیږي،
پر ما داسې غمونه راغلل چې که چیرې په ورځو راغلي وو،
نو ورځې به په تورو شپو بدلې شوې وے.

خو څه ووایو چې په سترګو کښې مو خار او په ستونې کښې هډوکے دے.

إنّا للهِ وَ إنّا إلَیهِ راجِعونْ!

Download from:aghalibrary.com